د افغانستان بانک

د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت

مقرراتي معاونیت

نېټه: ۱۴۴۷/ ۳/ ۱۳
۱۴۰۴/ ۶/ ۱۵

ګڼه: ............. م.ا.ت
۳۶۱۹
۳۱۹۷ / ۳۱۶۶

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

ماهیت: متحدالمال

موضوع: د بانکونو او د بانکونو د مسئولینو له لوري د خفیفو او شدیدو تخطیانو د مخنیوي په موخه د تنفیذي اقداماتو د وضع کولو په اړه

د افغانستان بانک د قدرمن عامل پلاوي د ۸۸ ګڼې ۱۴۴۷/۰۲/۲۷ نېټې تصویب پر اساس لیکل کېږي:

د افغانستان د بانکوالۍ قانون، د بانکي څارنې او مالي خدماتو د آمریت د تنفیذي اقداماتو، محاسبې او جواز ورکولو مدیریتونو کړنلارو د محتویاتو مطابق د بانکونو او د بانکونو د مسئولینو په کچه د مخنیونکو او تنفیذي اقداماتو په توګه د تخطیانو په وړاندې مالي جریمې وضع کیدې، خو د افغانستان اسلامي امارت د بیا حاکمیت څخه وروسته د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د (۱۴۷۰/۳۲۶) ګڼې (۱۴۴۴/۰۵/۰۹) نېټې فرمان په اساس په بانکونو او اړوندو مسئولینو باندې د مالي جریمو وضع کېدل منع شول. د بانکي سکتور د ثبات، ساتنې او همدارنګه متعارف بانکونه بشپړ اسلامي بانکوالۍ بدلون ته د جدي اړتیا په پام کې نیولو سره، د افغانستان بانک د حکمونو تطبیق یوه اړینه مسئله ده چې د بانکونو لخوا د افغانستان بانک د حکمونو د نه تطبیقولو په صورت کې د تنفیذي اقداماتو او د هغو اعمالولو ته یو جدي اړتیا لیدل کیږي. نو پدې اساس د ناسالمو او غیر مصئونو بانکي فعالیتونو، قانوني، مقرراتي تخطیانو، او د افغانستان بانک د مقرراتو، کړنلارو او هدایاتو د نه تطبیقولو په صورت کې د افغانستان بانک د قدرمن عامل پلاوي د ذکر شوي تصویب پر اساس په بانکونو او د بانکونو په مسؤلینو باندې خفیف او شدید اقدامات وضع کېږي، نو بناءً د بانکونو د ونډه والو، د نظار پلاوي، عامل پلاوي او کارکوونکو د خبرتیا په موخه ولیکل شول چې د تخطي په صورت کې په ټولو باندې د تنفیذي اقداماتو مدیریت له لوری خفیف او شدید اقداماتو وضع کیږي.

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټه اخیستنې ستاسو د ډېر باوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۴۴۷/ ۳/ ۹

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال او سرپرست**

کاپي؛

- د ریاست د دفتر قدرمن لوی آمریت
- د بانکي څارنې او مالي خدماتو د مقرراتو قدرمن مدیریت
- دبانکونو د اتحادیې قدرمن ریاست ته

د افغانستان بانک، ابن سـ
تولنیزي ،

۱